دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه
شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای مؤمنانو! د سړیو کومه ډله دې په نورو سړیو ملندې ونه وهي کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي، او نه دې ښځې پر نورو ښځو ملندې وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي. او هم یو د بل بد مه یادوئ او یو بل ته بد لقبونه مه ږدئ. له ایمان راوړلو وروسته د فسق نوم یادول ډېر بد کار دی. او هر څوک چې له دې وانووښت نو همغوی لوی ظالمان دي. (الحجرات ۱۰ – ۱۱ آیتونه)

درس حدیث

له ابو امامه رضی الله عنه نه روایت دی چې یو سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې ایمان څه شی دی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې ته خپلې نیکۍ خوشاله او خپلې ګناه خپه کړي نو ته مؤمن یې. هغه وویل: ای د الله رسوله! نو ګناه څه شی دی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې دې په زړه کې یو شی کرکه پیدا کړه نو پرې یې ږده. (احمد)

شهادت دربیم کال، ۱۵ مه ګڼه، پرله پسې ۱۱۵ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د چنګابن ۱۵ مه د۱۴۳۲ هـ ق د شعبان ۵ مه د۲۰۱۱ م د جولای ۲ مه

د پاکستاني بریدونو پر وړاندې په ورته عمل کې عام وګړي زیان ویني "کرزی"

کابل، رسنۍ:
د افغانستان ولسمشر وایي، پر افغانستان د پاکستان د بریدونو پر وړاندې څکه په ورته عمل لاس نه پوره کوي، چې له امله یې د پاکستان عام وګړي وژل کېږي.

له تېرې شاوخوا یوې میاشتې راهیسې د پاکستاني ځواکونو له خوا د افغانستان پر کونړ، خوست، پکتیا اوننګرهار ولایتونو د توغول شویو څه د پاسه ۸۰۰ توغندیو له امله ۵۰ تنه وژل شوي او په لسګونو نور ټپیان دي.

افغان چارواکو په دې اړه له پاکستاني چارواکو سره خبرې کړې او له هغوی څخه یې د دغو بریدونو د بندېدو غوښتنه کړې ده، خو پاکستاني لوري د دغو بریدونو په اړه بې خبري ښودلې ده.

پاکستاني چارواکو ویلي، چې څه موده مخکې "ترهګرو" د افغانستان له خاورې د پاکستان پر سرحدي سیمو برید وکړ او کېدای شي، چې د پاکستاني ځواکونو په ځوابي عملیاتو

بقیه در صفحه ۳

حملات راکتی بر خاک افغانستان محور اصلی گفتگوی عمر داودزی با سلمان بشیر

رادیو آزادی:
عمر داودزی سفیر افغانستان در اسلام آباد با مقامات وزارت خارجهء پاکستان دیدار و گفتگو نموده است، این دیدار شام دوشنبه در اسلام آباد صورت گرفت.

عمر داودزی طی یک مصاحبهء اختصاصی که با رادیو آزادی داشت، هدف این ملاقات را در مورد انتقاد شدید دولت و مردم افغانستان در رابطه به حملات اخیر راکتی اردوی پاکستان که در مناطق مختلف کنر، ننگرهار و پکتیا رخ داده بود، خواند.

وی گفت:
"با معین سیاسی وزارت خارجهء پاکستان سلمان بشیر گفتگوی طولانی داشتیم که در رابطه به روند مذاکرات بین دو کشور بود، اما تاکید من بیشتر در مورد تشویش و نگرانی های دولت و مردم افغانستان در رابطه به حملات

بقیه در صفحه ۴

پټرایوس:

د افغانستان جګړه به له جنوب څخه پر ختیځ متمرکزه شي

د افغانستان پر ختیځو سیمو کې به ځانګړي ځواکونه، استخبارات، کشفي او هوایي ځواکونه زیات شي

جنرال ډېوېډ پټرایوس د دوشنبې په

آزادي راډیو:
جنرال ډېوېډ پټرایوس چې په افغانستان کې یې د بهرنیو ځواکونو د عمومي قوماندان په توګه دنده پایته رسېدونکې ده وایي، د افغانستان له جنوب څخه به جګړه پر ختیځو سیمو، چې له پاکستان سره پر ګډه پوله پرتې دي، متمرکزه شي، په دغو سیمو کې سخت دریځي وسلوال له القاعده شبکې او نورو وسلوالو ډلو سره نږدې اړیکې لري.

پاتې ۴ مخ

فرزندان نظامیان امریکایی بیشتر به اختلالات روانی مبتلا می شود

PROPERTY OF ACKU

خبر گزاري فارس:
بررسي‌ها و تحقیقات جدید نشان مي‌دهد که کودکان نظامیان امریکایي که والدین آنها به مناطق جنگي اعزام شده‌اند، بیشتر از دیگر کودکان در معرض خطر ابتلا به اختلالات رواني قرار دارند.

به گزارش فارس به نقل از شبکه تلویزیوني "بي بي سي"، تحقیقات انجام شده در امریکا نشان مي‌دهد که فرزندان نظامیان امریکایي که به مناطق جنگي اعزام مي شوند در مقایسه با سایر کودکان با احتمال بیشتر ابتلاي به اختلالات رواني مواجه هستند.

بر اساس نتایج این تحقیقات جدید، احتمال ابتلاي کودکان نظامیان اعزام شده به مناطق جنگي به مشکلات و اختلالاتِ رواني با طول دوره خدمت والدین آنها در مناطق جنگي ارتباط مستقیم دارد.

این تحقیقات، که نتیجه آن در مقاله‌اي در نشریه اسناد پزشکي تخصصي

بقیه در صفحه ۳

همزمان با ورود "کامرون" به افغانستان؛

جسد نظامی مفقود شده انگلیسی در جنوب افغانستان پیدا شد

کابل، رسانه ها:
همزمان با ورود صدراعظم انگلیس به ولایت "هلمند"، نظامیان انگلیسي از پیدا شدن جسد یک نظامي که صبح روز گذشته مفقود شده بود، خبر دادند.

دفتر مطبوعاتی نیروهای انگلیسی مستقر در افغانستان با انتشار اطلاعیه ای اعلام کرد که این نظامی در نخستین ساعات روز گذشته به تنهایي از پایگاه خود در مرکز ولایت هلمند خارج شده بود و اطلاعی از سرنوشت وی در دست نبود.

بر اساس این اطلاعیه، پس از جستجوي زمیني و هوایی، جسد وی

بقیه در صفحه ۴

د افغانستان له لارې د ازبکستان او ترکمنستان د اورګاډي پټلۍ یوځای کېږي

د افغانستان د کانونو وزارت آمو دریا ته نږدې د ۳ ساحو د تیلو استخراج داوه طلبی ته وړاندې کړې

تاند:
د افغانستان د کانونو وزیر وحید الله شهراني د دوشنبې په ورځ وویل چې د افغانستان د کانونو د استخراج لپاره به د هیواد د اورګاډي شبکه وغځوي.

حاضردمه افغانستان د اورګاډي ۷۵ کیلومتره پټلۍ لري چې مزارشریف ښار له حیرتان بندر سره نښلوي.

خو نعمت الله شهراني وایي چې د اروپایي کمیسون په تخنیکي مرسته به په راتلونکو څو اوونیو کې د اورګاډو اداره جوړه کړي.

ښاغلي شهراني همداراز وویل چې د هیواد د کانونو د استخراج لپاره به د اورګاډي شبکه د اسیایي پراختیایي بانک په مالي مرسته له مزارشریف څخه د فاریاب ولایت تر اندخوی پورې وغځوي چې د ترکمنستان د اورګاډي له شبکې سره یوځای شي.

ده وویل په دې ډول به افغانستان په دوو کلونو کې له کسپین سمندرګي

بقیه در صفحه ۴

ملي یووالی؛ د هیواد د دفاع ضامن

محمد خلیل

له دې څرګند واقعیت نه هېڅوک سترګې نه شي پټولی چې د خپل هېواد، خاورې، ولس او عقیدې دفاع یوازې هغه وګړي کولي شي چې هغوی د جګړې په میدان کې له ټولو هغو وسلو او وسایلو څخه برخمن وي چې د هېواد د ساتنې لپاره ضروري دي. کوم وګړي چې له دغه ستر نعمت څخه بې برخې دي هغوی یو نه یو ډول د بل چا د غلامۍ او محتاجي کچکول په غاړه ګرځوي، نه وقار لري او نه هم وزن، نه یې څوک خبرې اوري او نه یې هم وړاندیزونه، بلکې د نورو په رحم او کرم کې خپل ژوند لټوي. له بده مرغه موږ افغانانو هم همداسې یو بد حالت سره لاس او ګریوان یو، د خپل هېواد د دفاع لپاره نه ملي یووالی او قومي وحدت لرو او نه هم پیاوړې اقتصاد او پوځي وسایل، مګر بیا هم زموږ لاپې او شاپې د نړۍ له ټولو هېوادو څخه دومره زیاتې او له مبالغې ډکې دي چې هر اورېدونکی د لیونی ګمان راباندې کوي.

که موږ په خوله څومره لاپې شاپې وکړو او څومره درکې او اخطارونه ورکړو زموږ د هېواد او خاورې دښمنان زموږ د قوت اساس او بنسټ ته ګوري چې آیا واقعاً موږ هغه ځواک او وسایل لرو چې د خپلې خاورې د دفاع لپاره مؤثر رول ولوبوو؟!

د عمل په ډګر کې لاپې شاپې او درکې نه بلکې واقعي ځواک او هنر چلېږي، تاریخ دا ثابته کړې ده چې همیشه هغه قومونه او ولسونه د بري پړاو ته رسیدلي دي چې هغوی د عمل په قوت سره ډګر ته راوتلي دي، څکه خو لوی الله جل جلاله پخپل کتاب قرآن کریم کې مسلمانانو ته په څرګندو ټکو امر کړی دی چې تر خپل آخري توانه د خپلو دښمنانو په خلاف هر اړخیز چمتووالي ونیسئ تر څو د الله او خپل دښمنان ورباندې وویرئ....

پاتې دربیم مخ

کامرون:

هغو کسانو چې په افغانستان کې د خلکو وژنې بس کړې اوس سیاستوال دي

کابل، رسنۍ:
د بریتانیا صدراعظم ډیویډ کامرون (د چنګابن په ۱۴ مه) په کابل کې له ولسمشر حامد کرزي سره په یوه ګډه خبري غونډه کې پر طالبانو ږغ وکړ چې د سولې په سیاسي پروسه کې ګډون وکړي.

کامرون، چې د افغانستان سفر له هلمنده پیل کړ، وویل: طالبان د جګړې په میدان کې ماته کوي نو ښه دا ده چې د سولې سیاسي پروسه ومني.

ده وویل د سولې د پروسې مشري د افغانستان د حکومت په لاس کې ده او موږ ورسره مرسته کوو.

کامرون زیاته کړه: "طالبانو ته زما

پاتې ۴ مخ

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

پاکستان دې د جوش پر ځای له هوش نه کار واخلي

د تېرو څو اونیو راهیسې د پاکستاني سرحدي ځواکونو له خوا د افغانستان پر کنړ، ننګرهار او خوست ولایتونو توغندوي او راکټي بریدونه دوام لري، تر اوسه نږدې د ۸۰۰ توغول شویو توغندیو په نتیجه کې پنځوس تنه وژل شوي او په لسګونو نور ټپیان دي.

افغان چارواکو په وار وار له پاکستاني چارواکو سره په دې اړه خبرې کړي او له هغوی څخه یې ددغو بریدونو د بندولو غوښتنه کړې، خو پاکستاني چارواکو ددغو بریدونو په اړه نه یوازې چورلټ بې خبري ښودلې ده بلکې د تېر په څېر د افغانستان پر خاوره د پاکستاني سرحدي ځواکونو له خوا راکټي او توغندوي بریدونه جریان لري.

د افغاني چارواکو په وړاندې د پاکستاني چارواکو له خوا چورلټ ناخبري او په دې اړه هېڅ ډول مثبت ګامونه نه اوچتول همدا معنی لري چې پاکستاني چارواکی دا بریدونه له مخکې نه د یو سنجول شوي پلان له مخې ترسره کوي څکه چې پاکستان غوندې یو پیاوړی فوځي ځواک لرونکی هېواد چې پخپلو ټولو سرحدونو بشپړ کنترول لري هېڅکله داسې نشي کېدلی چې دهغوی له نظره دا هر څه پټ وي، او نه هم د هغوی انکاري ځواب افغانان او نړیوال قانع کولې شي.

افغان چارواکو او ولس پاکستان ته کافي وخت ورکړ چې ددې د مخنیوی لپاره عملي ګامونه اوچت کړي خو پاکستاني چارواکو له خوا ددغو بریدونو د بندولو لپاره هېڅ ډول مثبت اقدام ونه شوه نو څکه نور د افغانانو د صبر کاسه ډکه او هغه هیله یې چې له خپل مسلمان او نږدې ګاونډي هېواد څخه درلوده په ناهیلی بدله شوه د افغانستان حکومت له پاکستان سره د ګاونډیتوب او ورورولی د اړیکو د درلودلو د مصلحت په نظر کې نیولو سره تراوسه د بالفعل ځوابي اقدام څخه ډډه کړی تر څو د سیمې نور دښمنان ترېنه ګټه اوچته نکړي خو د افغانستان ولس زغم او حوصله انتها ته رسېدلې هغوی نشي کولې چې هره ورځ خپل اولادونه د پاکستاني ځواکونو په بریدونو ټوټې او پرچې پرچې و ګوري، کورونه یې وران او مال حال یې تباه شي. که د بریدونو دغه روانه لړی ختمه نشي نو دا احتمال نشي ردیدلې چې د افغانستان ولس په ځوابي اقدام لاس پورې کړي.

د ځینو پوځي کارپوهانو له خولې ویل کېږي چې پاکستانی ځواکونه د افغانستان په سرحدي سیمو څکه دا بریدونه کوي چې له پاکستاني سرحدونو څخه د مخالفینو د راویستلو په صورت کې دغه ځایونه دهغوی لپاره خالي او د خپلو اډو په توګه وکاروي. همدغه راز دا هم ویل کېږي چې ددغو بریدونو په ترسره کولو سره پاکستاني ځواکونه په پاکستان کې د بې پیلوټه الوتکو د بمباریو انتقام له افغانانو نه اخلي، دا تبصرې هم روانې دي چې ځینې مغرضې کړی غواړي دداسې بریدونو په ترسره کولو د سولې د روان بهیر مخه ونیسي. خو دا یو داسې بې ځای او ناعاقبت اندیش عمل دی چې ګټه یې سراسر دښمنانو او تاوان یې ددوه نږدې ګاونډیو هېوادو ته رسېږي.

ښه به دا وي چې پاکستاني چارواکي، اپوزیسیون، سیاسي او مذهبي مشران په روانو حالاتو ژور غور او فکر وکړي، د جذباتو پر ځای له هوش نه کار واخلي، له هر هغه اقدام څخه په کلکه ډډه وکړي چې دوه ورور ګاونډي هېوادونه د دښمنۍ پولو ته رسوي چې ګټه یې سراسر د پاکستان او افغانستان دښمنو هېوادو ته رسېږي.

د دواړو هېوادو تل پاتې ګټې پخپلو کې د دوستانه اړیکو په ټینګولو کې مضمرې دي، نه ښۀ چې د دښمنۍ په بې رحمه توره دغه اړیکې غوځې او د دوه دوستو ګاونډیو هېوادو ولسونه د جنګ د لمبو خوراک شي.

حزب اسلامي د پاکستاني ځواکونو دغه ناروا او ظالمانه بریدونه غندي او ژر تر ژره د بندیدو غوښتنه کوي.

ضرورت هم آهنگی مسایل فرهنگی و امور تبلیغاتی رسانه ها

ابوذر پیرزاده

در دنیای امروز رسانه های جمعی (اعم از تلویزیون ها، رادیوها، انترنت و مطبوعات) در پروسهٔ رشد و توسعهٔ کشورها دارای نقش بارز و حیاتی بوده و به همین خاطر قرن بیست و یکم میلادی را قرن ارتباطات نامیده اند. اما این امر فقط زمانی تحقق پیدا میکند که هم آهنگی های لازم بین وسایل مفاهمهٔ جمعی و رسانه های تبلیغاتی در یک کشور و جامعه وجود داشته باشد، و آنها برای رسیدن به یک هدف و برنامهٔ مشخص و واحد و معین پذیرفته شده از طرف دولت و مردمان آنکشور و آن جامعه اشتراک مساعی نمایند.



در ایالات متحدهٔ امریکا پیشرفته ترین کشور جهان امروز، دفاع از منافع ملی آنکشور و تلاش در جهت حفظ و تأمین آن در صدر اهداف و برنامه های رسانه های تبلیغاتی - اعم از تصویری و غیر تصویری - آنکشور قرار دارد و تا جائیکه ملموس است هیچ وسیلهٔ مفاهمهٔ جمعی امریکایی این حق را به خود نمیدهد که برخلاف منافع ملی ایالات متحده فعالیت و تبلیغات نماید و اگر هم احیاناً چنین کاری صورت بگیرد بسیار نادر بوده و در صورتیکه قابل ملاحظه باشد، بطور مستقیم و یا غیر مستقیم از طریق مجاری قانونی تأثیرات آن خنثی ساخته میشود.

بطور مثال منافع ملی ایالات متحده امریکا ایجاب میکند که در کنار اسرائیل بحیث یک کشور قدرتمند، دولت مستقل فلسطینی نیز در خاورمیانه وجود داشته باشد. همینطور منافع ملی ایالات متحده در اوایل دههٔ هشتاد هجری شمسی اقتضای آنرا مینمود که آنکشور رژیم دیکتاتوری صدام حسین به این دو مسأله نشان میدهد که اکثریت قریب به اتفاق رسانه های تبلیغاتی ایالات متحده در بارهٔ مسایل مذکور نقاط نظر مشترک داشته اند و دارند. و چون این دو مسأله با منافع ملی امریکا مطابقت داشته است، وسایل مفاهمهٔ جمعی آنکشور به نفع آن و به صورت هم آهنگ در مورد آن تبلیغات کرده اند. و اگر بعضی از رسانه های جمعی ایالات متحده خلاف آن هم حرفی زده باشند، بسیار ناچیز و کم اهمیت بوده است.

از جانب دیگر در کشورهای اروپایی نیز وضع به همین منوال میباشد. بگونهٔ مثال مسأله راه نیافتن زنان محجبه به مراکز آموزشی و دانشگاه های کشورهای اروپایی، چون با قوانین پذیرفته شده دولت ها و جوامع آنکشورها، نظیر فرانسه و آلمان مطابقت داشته است، رسانه های جمعی کشورهای مذکور در یک همآهنگی کاملاً آشکار به نفع دولت ها و اکثریت جوامع خویش تبلیغات نموده اند و هنوز هم این تبلیغات بصورت هم آهنگ و پلان شده ادامه دارد. همینطور در رابطه با مهاجرت اتباع کشورهای جهان سوم و توسعه نیافته به کشورهای اروپایی، ما عملاً مشاهده میکنیم که وسایل مفاهمه جمعی آنکشورها بصورت هم آهنگ و کاملاً مطابق با خواسته های دولت هایشان عمل می نمایند. زیرا خواسته های دولت های آنان یک امر پذیرفته شده برای مردمان کشورهای مذکور بوده و به تعبیر دیگر با منافع ملی آنان مطابقت دارد. در واقع تبلیغات رسانه یی به نفع مهاجران، عملی خلاف منافع آنکشورها محسوب میشود، و به همین خاطر است که رسانه های کشورهای غربی بدون درنظر داشت ابعاد انسانی این قضیه، علیه منافع مهاجران و به نفع دولت ها و کشورهای خویش بصورت هم آهنگ عمل میکنند.

در جمع کشورهای همسایهٔ ما، هندوستان که در اجرایی شدن دموکراسی در این منطقه از آسیا شهرت جهانی دارد، وقتی پای منافع ملی آنکشور به میان می آید، همهٔ رسانه های جمعی کشور هند بطور هم آهنگ و یک صدا عمل میکننند. بگونه مثال در حادثهٔ تروریستی اخیری که در شهر ممبي صورت گرفت، تمام وسایل مفاهمهٔ جمعی آنکشور بصورت هم آهنگ عمل کردند و ما هیچ رسانه یی معروف هندی را سراغ نداریم که بر ضد هند و به نفع تروریست ها تبلیغات کرده باشد و یا به رویدادهای دردناک ممبي صحه گذاشته و از اهداف تروریست ها حمایت نموده باشند. همینطور سالها قبل در حادثه تخریب مسجد بابری در هند نیز ما عین هم آهنگی را در رسانه های ارتباط جمعی کشور هندوستان مشاهده کردیم و شاهد بودیم که رسانه های تصویری و غیر تصویری معتبر آنکشور به نفع هندوهای افراطی تبلیغات وسیع و همآهنگی را براه انداختند. علاوه بر این در ارتباط با مسأله کشمیر و اختلافات هند و پاکستان بر سر این مسأله نیز یک هم آهنگی کاملاً آشکار تبلیغاتی بین وسایل مفاهمهٔ جمعی کشور هندوستان به وضاحت دیده میشود.



در کشور پاکستان نیز رسانه های جمعی آنکشور در مورد خط تحمیلی دیورند چنان همآهنگ عمل میکنند که گاهی انسان فکر میکند که تمامی رسانه های کشور مذکور از یک منبع هدایت و رهبری میشوند. در حالیکه ظاهر مسأله چنین نیست و رسانه های پاکستانی از طرف منابع و مراجع مختلف هدایت و رهنمایی میشوند. اما از آنجائیکه که خط تحمیلی دیورند با منافع ملی پاکستانی ها، به قول خود آنها، ارتباط پیدا میکند، در رابطه با آن، همهٔ رسانه های پاکستانی تبلیغات همآهنگی را براه می اندازند. و در برابر آن یک موقف واحد دارند و از یک خط مشی مشترک پیروی میکنند. همینطور یک نظر اجمالی به امور تبلیغاتی رسانه های جمعی پاکستانی در مورد هند به وضاحت نشان میدهد که اکثریت مطلق رسانه های مذکور در رابطه با هند موضع مشترک دارند و با پیروی از پالیسی سیاسی و استراتیژی ملی دولت شان، در قبال مسأله کشمیر و هندوستان به صورت هم آهنگ عمل میکنند.

در کشور عزیز ما افغانستان که تقریباً جریان دموکراسی و پروسه رسانه های آزاد را تازه تجربه میکند، وضع رسانه ها با آنچه در بالا گفته آمدیم به کلی متفاوت بوده و متأسفانه هم آهنگی های لازم در امور تبلیغاتی، بین رسانه های ارتباط جمعی، آنطوریکه شرایط اقتضا میکند وجود ندارد. مطالبی را که رادیو تلویزیون ملی و مطبوعات دولتی پخش و نشر میکند، با موضوعاتی که از طریق تلویزیونها و رادیوها و مطبوعات مربوط به بخش خصوصی اکثراً دیده میشود که به نفع یک حزب و یا یک قوم و یا یک زبان خاص تبلیغات صورت میگیرد. و این در حالی است که شبکه تلویزیون خصوصی دیگر، به نفع قوم و گروه دیگری تبلیغات مینماید و آنچه در میان برنامه های این دو شبکهٔ تلویزیونی بی اهمیت جلوه مینماید منافع ملی و مصالح علیای کشور است.

در تلویزیون ملی و شبکه های تلویزیونی بخش خصوصی، نیز تا جائیکه دیده میشود به جای تبلیغات گسترده و همآهنگ برای آشتی ملی و آوردن صلح و امنیت در کشور، توجه بیشتر به پخش سریالهای خارجی و پروگرامهای موسیقی، حتی سریالها و پارچه های موسیقی که با ارزشهای ملی و دینی ما سازگاری ندارد، صورت میگیرد. همینطور در بخش مطبوعات آزاد کشور نیز این عدم هم آهنگی به وضاحت دیده میشود. و اگر مبالغه نشود در مجموع در سطوح رسانه های جمعی کشور یک استراتیژی مشترک، و هم آهنگی لازم وجود ندارد و در ظاهر چنین احساس میشود که وسائل ارتباط جمعی افغانستان در کل از وجود یک متولی توانمند و شایسته که بتواند امور تبلیغات رسانه های کشور، اعم از دولتی و خصوصی را در یک چوکات واحد و هم آهنگ با منافع ملی افغانستان عیار نماید، وجود ندارد.

با توجه به نقش مهم و سازنده وسایل مفاهمهٔ جمعی در امر توسعه و انکشاف کشور عزیز ما افغانستان و با درنظر داشت ضرورت همآهنگی وسایل فرهنگی و امور تبلیغاتی رسانه ها و برای رفع خلاها و ناهمگونی ها و نا هم آهنگی های موجود بین دستگاه های تبلیغاتی کشور، پیشنهادات ذیل جهت بررسی و اجرایی شدن ارائه میگردد:

۱- یک شورای مشترک مشورتی و نظارتی بین تلویزیون های خصوصی و ملی تحت عنوان "شورای هم آهنگی و نظارت بر نشرات تلویزیونهای افغانستان " ایجاد گردد و در آن از هر شبکه تلویزیونی یک یک نماینده وجود داشته باشد و آنها یک نفر را به اتفاق آرأ به حیث رئیس انتخاب نمایند. این نماینده ها باید دارای تحصیلات و تخصص در رشته ژورنالیزم بوده و تجربه و توانایی لازم را در امور نظارت و برنامه ریزی تبلیغاتی و هم آهنگ ساختن شبکه های تلویزیونی، داشته باشند. همین شورا باید به مشورهٔ همدیگر و با استمداد از اساتیذ دانشگاهی و اکادمی علوم کشور، استراتیژی تبلیغاتی تلویزیونهای کشور، اعم از خصوصی و دولتی را بر مبنای قانون اساسی و منافع ملی افغانستان طرح ریزی و مشخص نمایند.

این استراتیژی پس از تأیید مقامات ذیصلاح (رئیس جمهور و یا مجلس وزرا) از طریق همهٔ رسانه های تلویزیونی کشور به صورت هم آهنگ به مرحله اجرا گذاشته شود. علاوه بر این همین شورا باید امور تبلیغاتی همهٔ شبکه های تلویزیونی کشور را نظارت نموده و در مواردی که تبلیغات و برنامه های تلویزیونهای مذکور خلاف منافع ملی و قانون اساسی افغانستان تشخیص داده شود، در بدو امر مجریان آنرا هدایت و راهنمایی و در مراحل بعدی و در صورت تکرار تخلف، از طریق مجاری قانونی آنانرا تنبیه نماید.

۲- در سطح مطبوعات خصوصی (اعم از روزنامه ها و جراید) نیز باید شورای نظیر شورای فوق الذکر به وجود آید، که از هر

بقیه در صفحه ۳

ملي یووالي؛ د هېواد د دفاع ضامن

(د لومړي مخ پاتې برخه)

... د لوی الله دغه ښکاره او څرګند امر مسلمانانو ته د اور په ګوته کوي چې د خپل دین، خاورې او ولس د دفاع لپاره هر اړخیز چمتووالي خورا اړین دی، خو متأسفانه چې موږ تر اوسه په دې ډګر کې صفر یو او هېڅ ډول لاسته راوړنې نه لرو.

که موږ اصل واقعیت ته ځیر شو او له خپل ضمیره وپوښتو نو لدې پرته به بل هېڅ ځواب پیدا نه کړو چې موږ خپل اصلي فرض او دنده پرېښې، له ځمکني حقایقو او واقعیتونو مو سترګې پټې کړې دي، له خپل هېواد او له خپلو وګړو سره خیانت کوو هسې په تشو لاپو شاپو هغوی ته دوکه ورکوو او په تیاره کې یې ساتو. په پارلمان کې د نورو هېوادو له لورې د افغانستان پر خاوره د پوځي تیری غندنه یا هم د قومي مشرانو له خوا د قومي لښکرو جوړولو وړاندیزونه هغه خبرې دي چې د افغانستان یو مشکل هم نه شي کمولی ځکه چې عملي قوت ورسره نه دی ملګرې د جنګ په ډګر کې یوازې عملي قوت پکارېږي نه تشې خبرې.

دا حقیقت باید ومنو چې یوازې دهغه چا په خبرو کې قوت او وزن وي چې د کولو صلاحیت هم ولري او مقابل لوری متیقن وي چې څه وایي د عمل په سنګر کې هم ترسره کولی شي.

زموږ د پارلمان د غړو، وزیرانو، لیډرانو او قومي سپین ږیرو خبرې او اخطارونه به هله وزن پیدا کړي چې شاته د ترسره کولو عملي استعداد هم ولري.

که د افغانستان لوړ پوړي چارواکي، قومي او سیاسي مشران واقعاً غواړي چې هېواد یې د پردیو له پوځي ګواښ او تیری څخه په امان کې پاتې شي، او په نړی کې عزت او وقار ترلاسه کړي نو ددې یوالځینې لاره داده چې واقعیتونه عملي کړي او هغه اصل ته غاړه کېږدي چې د یو هېواد د استحکام او ځمکنی بشپړتیا ضمانت ورکوي، د مثال په توګه هېڅوک له دې اصل نه انکار نه شي کولې چې ملي وحدت د هېواد د مؤثر دفاع او پرمختګ لپاره د ملا د تیر حیثیت لري، یا په بل عبارت ملي یووالي روح دی او نور د هغه د ډانچې مختلف غړی دي. تر څو پورې چې ملي وحدت نه وي تأمین شوې د هېواد استحکام، دفاع او پرمختګ محال دی.

که زموږ حکومتي چارواکي، سیاسي مشران، علماء او سپین ږیري واقعاً مستحکم، آزاد، خپلواک او پخپلو پښو ولاړ افغانستان لیدل غواړي نو بیا دې پخپلو منځونو کې د اختلاف، افتراق او دښمنی پرځای پخپلو کې یو بل ته د یووالي لاسونه ورکړي؟ د ملي وحدت هغه اصل روح دی غښتلی کړي چې د هېواد بقا، استحکام او پرمختګ ورپورې تړل شوې دی؟ !

دا چې هېواد عملاً له ستر ګواښ سره مخامخ شوې او د بقا آخري سلګی وهي، هر لورې د دښمنانو ناولی لاسونه ورته غځېدلي دي، داسې ورځ او شپه نشته چې په تېر یې د بمونو او توپونو بارانونه نه وي، داسې ساعت نه تیرېږي چې د پردیو له خوا د افغانانو وینې توی نه شي مګر ددې ټولو ناخوالو او بدمرغیو باوجود چې زموږ دغه چارواکی او ولسي نمایندګان او مشران یې پخپلو غړیدلیو سترګو وینې غیرت یې ولې په جوش نه راځي او له خپلو ټولو جعلي اختلافاتو او عداوتونو ولې لاس نه اخلي؟ ! آیا له اختلافونو او خپلمنځیو جګړو څخه لاس نه اخستل ددې معنی نه ورکوي چې زموږ دغه مشران د خپل ولس او هېواد په غم کې نه دی؟ !

هغوی دی په دې واقعیت اعتراف وکړي چې افغانستان د همدوی د بې اتفاقی او خپل منځي عداوتونو په اور کې ستي کېږي او همدوی ددې مجرمان دي، که دوی واقعاً د خلکو په سترګو کې خاورې نه اچوي او بوسو لاندې اوبه نه تیروي نو ددوی په وړاندې تر ټولو ستر مسؤولیت او له هېواد سره دهغوی د مینې یوالځینې ثبوت دا دی چې ژر تر ژره ملي وحدت تأمین کړي ټول افغانان پخپلو کې د اتفاق او ورورۍ په ټغر کینوي، هر څوک چې د هر چا د غلامی کړی په غاړه ګرځوي هغه وغورځوي او یوازې د خپل دین خاورې او ولس د خدمت لپاره ملا وتړي، ځکه چې په همدې کې د افغانستان بقأ او استحکام نغښتل شوې. هر څوک چې د ملي وحدت له تأمین نه تېښته کوي، قومي او ژبني تعصبونو ته لمنه وهي د پردیو په مرسته اقتدار ته رسیدل غواړي د بل چا په اشاره پخپل هېواد کې د بې اتفاقي تخم شیندي که هغوی هر څومره له هېواد او ولس سره د مینې شعار ورکړي بیا هم خپلو ځانو ته برئت نه شي ورکولی او د افغانستان ملي سلامتیا او ځمکني بشپړتیا ته چې څومره تاوانونه رسېږي مسؤولیت یې د همدوی په غاړه دی او همدوی د افغانستان د خاورې او ولس ستر دښمنان دي.

ضرورت هم آهنگی مسایل ...

نشریه یک نماینده در آن شرکت نماید. این شورا نیز وظیفه تعین استراتیژی تبلیغاتی و هم آهنگ سازی برنامه های نشراتی روزنامه ها و جراید آزاد سکتور خصوصی و نظارت بر امور تبلیغاتی آنها را بر عهده داشته باشد. این شورا باید حد اقل هر پانزده روز یکبار تشکیل جلسه دهد و علاوه بر برنامه ریزی های کلان برای مطبوعات آزاد کشور و هم آهنگ ساختن امور تبلیغاتی آنها، کارکردهای اجرایی آنانرا نیز مورد بحث و بررسی قرار دهد و بر آنها نظارت نماید.

۳- مطبوعات دولتی کشور نیز باید دارای همچو شورایی باشند و وظایفی نظیر شورای اخیر الذکر را انجام دهند.

۴- چاپخانه ها و مطابع خصوصی و دولتی کشور نیز باید دارای شورایی نظیر شورای فوق الذکر باشد که مسؤولیت هم آهنگی امور چاپ و نشر کتب و جزوات را در کشور بر عهده گیرد و بر امور صنعت چاپ کشور بصورت هم آهنگ و بدون تبعیض نظارت نماید.

۵- شرکتها و مؤسسات فلمسازی و دیگر سازمانهای هنری افغانستان نیز باید دارای یک شورای مشورتی و نظارتی همانند شوراهای فوق الذکر باشند، که در جهت برنامه ریزی و هم آهنگ سازی امور تبلیغاتی آنها، کمک و مساعدت نماید.

۶- تأسیس و موجودیت چنین شورایی برای رادیوهای آزاد و دولتی افغانستان نیز ضروری بوده و در امر مشخص نمودن استراتیژی تبلیغاتی و هم آهنگ سازی امور تبلیغی و نشراتی آنها بی نهایت مؤثر خواهد بود.

۷- رؤسای شش شورای فوق الذکر باید در دایرهٔ یک شورای مشورتی و نظارتی دیگری بنام "شورای عالی هم آهنگی و نظارت بر امور تبلیغاتی رسانه های افغانستان" گرد هم جمع شوند. این شورا نیز باید دارای یک رئیس انتخابی باشد و حداقل هر پانزده روز یکبار تشکیل جلسه نماید و پیشنهادات و طرح ها و مصوبه های شش شورای فوق الذکر را مورد غور و بررسی قرار دهد و روی آنها تصمیم گیری نماید. این شورا در واقع عالی ترین مرجع تصمیم گیری و پلان گذاری برای رسانه های افغانستان خواهد بود و استراتیژی کلی و برنامه های تبلیغاتی کلان کشور را مطابق به ارزشهای متعالی اسلام و قانون اساسی و مصالح علیای کشور پی ریزی خواهد کرد. همینطور این شورا وظیفه هم آهنگ سازی برنامه های تبلیغاتی رسانه های جمعی کشور و نظارت بر عملکرد و امور تبلیغی و نشراتی آنها را به طور کل بر عهده خواهد داشت. هم چنان همین شورا یک کمیسیون سه نفره را تحت عنوان "هیئت منصفه" از بین اعضای خود تعین خواهد کرد. که این کمیسیون وظیفه رسیدگی به تخلفات رسانه یی و شکایات نهادها و مردم را از رسانه ها بر عهده خواهد داشت. به طوریکه قبل از رسیدن تخلفات رسانه یی و شکایات نهادها و مردم به دستگاه های قضایی، این شورا آنرا از نظر فنی و مسلکی بررسی و حل و فصل خواهد کرد و در صورتی که حل این تخلفات و شکایات نیاز به فیصلهٔ قضایی داشته باشد، آنرا همراه با نظرات مسلکی خویش به مراجع قضایی جهت پیگیری های قانونی ارسال خواهد نمود.

۸- پیشنهاد میگردد تا "شورای عالی هم آهنگی و نظارت بر امور تبلیغاتی رسانه های افغانستان" پس از طی مراحل قانونی و اخذ مجوزهای لازم از طریق وزارت اطلاعات و کلتور، به حیث یک اداره و نهاد مستقل و رأساً تحت نظر دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری عمل نماید. برای پیشبرد هر چه بهتر امور این شورا و اجرایی شدن فیصله ها و مصوبه های آن بهتر خواهد بود کمیسیون سه نفره یی متشکل از نماینده های با صلاحیت سه قوه اجرائیه و مقننه و قضائیه نیز در آن حضور و سهم فعال داشته باشند.

د پاکستاني بریدونو پر ...

کې ځینې مرمی د افغانستان لورې ته تللې وې.

ولسمشر حامد کرزي، چې (د چنګاښ په ۱۴ مه) یې په کابل کې خبریالانو ته خبرې کولې، د یادو بریدونو موضوع تر هغه ګونګه او حساسه وبلله، چې په رسنیو کې یې په اړه څرګندونې کېږي.

هغه وویل، چې افغانستان د پاکستان د خلکو د هوساینې په فکر کې دی او پاکستان هم باید له هېڅ خوا پر افغانستان بریدونو ته ونه هڅول شي.

خو کرزي ونه ویل، چې پاکستان د چا له خوا بریدونو ته هڅول کېږي.

هغه وویل، چې د دې ستونزې د حل لپاره د پاکستان له حکومتي چارواکو سره خبرې روانې دي او هڅې کوي، چې د تشدد پر ځای دغه ستونزه د ورورګلوی په فضا کې او د عاقلانه اقداماتو له لارې حل کړي.

کرزي د دې پوښتنې په ځواب کې، چې ولې پاکستان دا فکر نه کوي، چې د بریدونو له امله یې په افغانستان کې عام خلک وژل کېږي؟ وویل: "که هر چا د نورو د خیر او سولې په اړه فکر کړی وای، نو دا مصیبتونه به په نړۍ کې نه و."

کرزی دغه ډول بریدونه د ګاونډیتوب او انسانیت پر خلاف وبلل او زیاته یې کړه، چې که څوک د جګړې فکر لري، نو داسې څوک هم باید وي، چې د سولې فکر ولري.

هغه زیاته کړه، چې د افغانستان خلک باید حوصله له لاسه ورنه کړي، څو احساسات د افغانستان د خلکو د زیان لامل نه شي.

دا په داسې حال کې ده، چې د افغانستان د ولسي جرګې او مشرانو جرګې غړو او ځینې نورو افغانانو د دغو بریدونو په غبرګون کې د ورته عمل غوښتنه کړې ده.

ولسي جرګې تېره ورځ د یادو بریدونو په غبرګون کې له پاکستان سره د ډیپلوماتیکو اړیکو د پرې کولو غوښتنه وکړه او د دغو بریدونو په غبرګون کې یې د افغان حکومت له هر ډول غبرګون څخه ملاتړ اعلان کړ.

ولسي جرګې ویلي، چې پاکستان باید د یادو بریدونو له امله د اوښتو زیانونو تاوان ورکړي او بښنه وغواړي.

دې جرګې له ملګرو ملتونو او د اسلامي هېوادونو له سازمانه غوښتي، چې له پاکستان څخه د دغو بریدونو په اړه جدي پوښتنه وکړي او فشار پرې راوړي، چې دغه بریدونه بند کړي.

فرزندان نظامیان امریکایی...

کودکان و نوجوانان منتشر شده است، بر اساس بررسي وضعیت بیش از سیصد هزار دختر و پسر امریکایي در سنین بین ۵ تا ۱۷ سالگي تهیه شده که دست کم یکي از والدین آنان به عنوان نفرات اعزامي ارتش امریکا مدتي را در مناطق جنگي عراق و افغانستان خدمت کرده است.

براساس این بررسي، در ۱۷ درصد از این کودکان عوارضي مانند استرس، افسردگي و مشکلات رفتاري تشخیص داده شده است که بالاتر از میزان عادي است.

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(دوه ویشتمه برخه)

س ۳۹۴: چا لومړی دواخانې جوړې کړې؟

ح: د طب مسلمان عالمان هغه څوک وو چې دواخانې یې جوړې کړې او ډیر کیماوي مواد یې په خپلو دوایانو کی داخل کړل، د دې عالمانو په سر کې ابو بیطان او داود انطاکي وو، دوی طبیعي نباتات شرحه کول او د دوا د نسخې د جوړولو طریقه یې ترینه ښودله، د هغې نه د خوراک اندازه یې ترینه هم ښودله.

س ۳۹۵: چا لومړی زیبق (یو قسم مواد دي) په مرهمو کې و کارول؟

خ: مشهور مسلمان طبي عالم (رازي) لومړی سړی و چې دا کار یې و کړ.

س ۳۹۶: چا لومړی په عملیاتو کې د ډاکتر جالینوس یوناني غلطیانې په ګوته کړې؟

خ: عبد اللطیف البغدادي لومړی سړی و چې د ډاکتر جالینوس غلطیانې یې په ګوته او بیا یې صحیح کړې.

س ۳۹۷: چا لومړی د زیبق (یو قسم مواد دي) مرهم په بیزوګانو باندې تجربه کړل؟

خ: رازي لومړی عالم و چې دا تجربه یې و کړه او کامیابه وه.

س ۳۹۸: چا لومړی په عملیاتو کې کتاب ولیکه؟

خ: مسلمانو عالمانو چې د هغوی د جملې نه مشهور عالم ابو قاسم زهراوي و.

س ۳۹۹: چا لومړی د ګوردو نه د کانې راویستل شرحه کړل؟

خ: مسلمان طبي عالم (ابن زهر) لومړی سړی و چې دا کار یې و کړ.

س ۴۰۰: چا لومړی د تنفس نل و سپړلو؟

خ: د (تیسیر فی المداوات و التدبیر) کتاب لیکونکی ابن زهر لومړی سړی و چې دا کار یې و کړ.

س ۴۰۱: چا لومړی د فزیک علم کشف کړی؟

خ: الحسن بن الهیثم.

س ۴۰۲: چا لومړی په آینو کې د رڼا انعکاس، عکس جوړیدل او د رڼا ماتول تر بحث لاندې نیولي دي؟

خ: الحسن بن الهیثم.

س ۴۰۳: چا لومړی دا نوی کیمیا جوړه کړه؟

جابر بن حیان.

س ۴۰۴: چا لومړی په کیمیا کې د بحث طریقه اختراع کړه؟

خ: مسلمانو عالمانو.

س ۴۰۵: چا لومړی د ویلې کیدو عملیات شرحه کړي دي؟

خ: مسلمان عالمان لومړي خلک و چې دا کار یې کړی دی.

س ۴۰۶: چا لومړی د بطلیموس فلکي نظریاتو غلطیانې صحیح کړې؟

خ: مسلمان عالمان لومړي خلک وو چې د بطلیموس هغه نظریه چې ویل یې د نړۍ د ثقل مرکز ځمکه ده، مګر زمونږ عالمانو چې د هغوی د جملې نه لومړی سړی البیروني و، وویل: چې د نړۍ د ثقل مرکز لمر دی.

س ۴۰۷: څوک لومړی په دې پوه شو چې ځمکه یو ستوری دی او په فضاء کې لامبو وهي؟

خ: د شاطر دمشقي زوي، د دمشق د جامع مسجد مؤذن او د فلکیاتو په علم کې یې ډیر معلومات لرل.

س ۴۰۸: چا لومړی د ځمکې د حجم د اندازی په هکله خبرې و کړې؟

خ: دمسلمانو علماو لومړی د ځمکې د حجم د اندازې په هکله خبرې کړې دي.

س ۴۰۹: چا لومړی د ځمکې قیاس او د محیط اندازه معلومه کړه؟

خ: موسی د شاکر زوی او د هغه زامنو.

س ۴۱۰: چا لومړی د ځمکې د قطر اندازه معلومه کړه؟

خ: د مسلمانانو هغه علماو چې د فلکیاتو له علم سره یې اشنایي وه.

س ۴۱۱: چا لومړی صفر پیدا کړ تر دې چې د ریاضي پوهانو د دې صفر په واسطه لوی لوی معادلې حل کړې؟

خ: خوارزمي لومړی شخص و چې دا کار یې و کړ.

س ۴۱۲: چا لومړی د تحلیلي هندسې تهداب ایښودی دی؟

خ: مسلمانو عالمانو لومړی دا کار کړی دی.

س ۴۱۳: چا لومړی د الجبر او هندسې تر منځ تړاو په ګوته کړ؟

خ: مسلمانو عالمانو لومړی دا کار کړی دی.

س ۴۱۴: چا لومړی د هندسې د مسایلو د حل د الجبر معادلې په کار واچولې؟

خ: د ریاضي علم مسلمانو عالمانو لومړی دا کار کړی دی.

س ۴۱۵: چا د لومړی ځل لپاره نقشه رسمه کړه؟

خ: ادرسي د مسلمانانو مشهور عالم و چې د هغه د وخت او زماني د نړۍ نقشه رسمه کړې وه.

س ۴۱۶: چا لومړی د اوبو ساعت جوړ کړ؟

خ: مسلمانو عالمانو، او دا ساعت بیا هارون الرشیدشارلمار ته ډالۍ کړه چې اورپایانو ورته د سحر نظر کاوه.

(نور بیا)

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

انډیپنډنټ:
د بریتانیا چاپ انډیپنډنټ ورځپاڼه په وروستۍ ګڼه کې لیکي، امریکا په افغانستان کې د خپلو عادي عسکرو د کمولو د تشې د ډکولو لپاره په دې هیواد کې د خپلو کوماندو عسکرو شمېر زیاتوي.
د ورځپاڼې په وینا د امریکا ولسمشر بارک اوباما غواړي، چې د راتلونکي کال د جمهوري ریاست د انتخاباتو لپاره د تیاریو په ترځ کې له افغانستانه د امریکایي عسکرو د ایستلو پلان ښه پرمخ لاړ شي او له بلې خوا هم نه غواړي، چې په افغانستان کې د عسکرو په کمیدو سره هغه پرمختګونه بیرته له لاسه وځي، چې په دې هیواد کې ترلاسه شوي دي.
انډیپنډنټ د پوځي سرچینو له قوله لیکي، د کوماندو ۱۶ عسکر کولای شي د سلو عادي عسکرو وظیفه سرته ورسوي.
که څه هم په افغانستان کې د امریکایي سل زرو عسکرو په ډله کې د دې هیواد د کوماندو عسکر هم برخه لري خو له دې هیواده د عسکرو د ایستلو پلان به پردغو عسکرو کوم اغیز ونه کړي.
د ورځپاڼې په وینا د امریکایي کوماندو ځواکونو یوه دنده د افغانستان د ملي اردو د عسکرو روزل دي، خو د هغوی اصلي دنده د القاعده او طالبانو ځپل دي.
واشنګټن پوسټ:
ورځپاڼې په وروستۍ ګڼه کې د جولای د څلورمې د امریکا د خپلواکۍ د ورځې په مناسبت یو مطلب خپور کړی او په افغانستان کې یې د امریکا د پوځ د فعالیتونو ستاینه کړې ده.
د ورځپاڼې په وینا د جولای څلورمه یوه

اوباما په افغانستان کې د خپلو عسکرو تشه څنګه ډکوي؟

نړیوالو ورځپاڼو په افغانستان کې د امریکا عسکر د تشې د ډکلو او پر ځای یې کوماندویي عسکر راوستلو او په افغانستان کې د امریکایي عسکرو د قربانیو په اړه مطالب خپاره کړي دي

زیانونوته په پام سره چې دغه پوځیان یې په یوه پردي هیواد کې پرځان ګالي، دا په خپله د ستاینې وړ دی.
ورځپاڼې د افغانستان په مختلفو ځایونو کې د یوشمېر هغو امریکایي عسکرو خاطرې او لاس ته راوړنې یادې کړې چې د القاعده د حملو د مخنیوي لپاره یې ځان په خطر کې اچولی او د نورو ژوند یې ژغورلی دی.
د واشنګټن پوسټ په وینا په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د قومندانۍ مرستیال جنرال ډیویډ رودریګوس چې څلوېښت میاشتې یې په افغانستان کې تېرې کړې دي، د دې هیواد هره ولسوالۍ ښه پیژني او د کارونو د ښه ترسره کیدو لپاره یې د سیمې له شرایطو سره ځان ښه عیار کړی دی.
واشنګټن پوسټ د دې مطلب په دوام کې لیکي، دغه جنرال به په راتلونکو څو ورځو کې له افغانستانه ووځي، خو نوم به یې د پوځیانو په ډله او د دغې جګړې په تاریخ کې تل د یوه بریالي جنرال په توګه په خاطرو کې پاتې وي.
ورځپاڼه زیاتوي، دا درسته ده چې په خپله رودریګوس یا نور کسان به ښایي د دغې جګړې د بریالیتوب په اړه څه ونه وایي، خو هغه به تل په ډېر ویاړ د هغو پرمختګونه خاطرې په ذهن کې ولري چې په افغانستان کې یې لاس ته راوړي دي.
ښه پلمه ده، چې په دې هیواد کې د امریکایي عسکرو د اتلوالیو یادونه وشي.
په افغانستان کې یوه لویه ستونزه د دې هیواد له چاپېریال او د ژوند له شرایطو سره ځان عیارول دي، چې امریکایي عسکرو له شکایتونو پرته ورسره ځان ښه عیار کړی دی.
واشنګټن پوسټ وړاندې لیکي، پردې سربېره هغو مالي، ځاني او رواني

ولسی جرگه خواستار قطع روابط دیپلوماتیک با پاکستان گردید

کابل، پژواک:
ولسی جرگه در عکس العمل با حملات پاکستان بر افغانستان، خواستار قطع روابط دیپلوماتیک با پاکستان گردیده میگوید که از هر گونه عکس العمل حکومت افغانستان در رابطه با این حملات حمایت میکند. از حدود یک ماه گذشته بدینسو نیروهای پاکستان بر ولایات کنر، خوست، پکتیا و ننگرهار بیش از ۷۰۰ توپ فیر گردیده و درنتیجه آن، ۵۰ تن کشته و ده ها تن دیگر مجروح شده اند.
مسؤولین حکومتی افغان در این مورد با مسؤولین پاکستانی مذاکره نموده و خواستار توقف این حملات گردیده اند، اما پاکستان از این حملات، اظهار بی خبری نموده است. ولسی جرگه افغانستان امروز در مورد این حملات یک اعلامیه منتشر نمود. در این اعلامیه حملات پاکستان به شدت تقبیح گردیده و آمده است که ولسی جرگه، از هرنوع عکس العمل حکومت افغانستان در این مورد حمایت میکند. جرگه در این اعلامیه نگاشته است که حکومت افغانستان، باید هرچه زودتر، روابط دیپلوماتیک را با پاکستان قطع نماید.
به همین ترتیب در اعلامیه آمده است: "پاکستان باید از خسارات وارده در نتیجه این حملات تاوان داده و عذر خواهی نماید." در اعلامیه از ملل متحد و سازمان کشورهای اسلامی خواسته شده است، تا از پاکستان در این مورد جداً سوال نموده و بر آن فشار وارد نمایند، تا جلو این اعمال را بگیرد. فریدون مومند نماینده ننگرهار در ولسی جرگه در نشست امروزی گفت که صرف منتشر نمودن اعلامیه درد افغانها را مداوا نموده نمیتواند.
موصوف میگوید که بر حکومت باید فشار وارد گردد؛ تا جلو این حملات را بگیرد و یا به گفته وی به پاکستان جواب دندان شکن بدهد. به گفته موصوف، پاکستان از این رو بعضی مناطق افغانستان را هدف قرار میدهد، تا زمینه استقرار را برای طالبان پاکستانی در این مناطق، مساعد بسازند. صالح محمد صالح نماینده کنر در ولسی

جرگه گفت که پاکستان، طی چند هفتهٔ گذشته، برپنج ولسوالی کنر توپ فیر نموده که در نتیجه آن، ده ها فرد ملکی کشته و مجروح شده اند. نامبرده میگوید: "این عمل پاکستان، برای مردم کنر قابل تحمل نیست و اگر حکومت در مورد آن اقدام نمیکند، ما خود به پاسخ دادن آماده هستیم."

د افغانستان جګړه به له ...

ورځ وویل، د پاکستان پولې ته نژدې د افغانستان پر ختیځو سرحدي سیمو به ځانګړي ځواکونه، استخبارات، کشفي او هوایي ځواکونه زیات شي.
پېټرایوس دغه څرګندونې له اسوشیټډ پرېس او څینو نورو خبري اژانسونو سره په مرکه کې وکړې.
د امریکا په مشرۍ ائتلافي ځواکونو په تېرو کلونو کې زیات تمرکز د افغانستان پر جنوبي ولایتونو کندهار او هلمند کړی، تېر کال د ۳۰ زرو تازه دمه امریکایي ځواکونو زیاته برخه په دغو سیمو کې وګمارل شوه.
په داسې حال کې چې افغان چارواکي او نړیوال مرستندویان د ښې ادارې په برخه کې د پرمختګ هڅه کوي، د اسوشیټډ پرېس اژانس زیاتوي، دغه ځواکونه له سیمو څخه د وسلوالو په ایستلو کې لاسته راوړنې لري او هڅه کوي دغه سیمې وساتي.
پېټرایوس په خپلو خبرو کې ویلي، د اضافي امریکایي عسکرو تر وتلو وروسته به هم ۶۸ زره امریکایي عسکر په افغانستان کې پاتې شي، د دې تر څنګ به له ۳۰ زرو تر ۴۰ زرو پورې د نورو هېوادونو عسکر هم په دې هېواد کې دېره وي. د نوموړي په خبره د ځواکونو د کمولو پر مهال به د افغان پولیسو او اردو پر شمېر ۷۰ زره نور هم ورزیات شوي وي.
د اژانس د معلوماتو پر اساس، یوازې تېره میاشت په افغانستان کې د امریکایانو په ګډون ۶۵ بهرني سرتېري ووژل شول چې ۲۶ یې یوازې په هلمند او پنځه تنه په ګاونډ کندهار کې وژل شوي دي.
پېټرایوس وویل خو اوس د جګړې تمرکز د افغانستان پر ختیځ کېږي، چې د افغان طالبانو، القاعده، حقاني شبکې او لښکرطیبه د فعالیت او د پاکستان پولې ته څېرمه پرتې سیمې دي.
امریکا په پرله پسې ډول شکایت کوي، چې پاکستان د خپلې خاورې په سرحدي سیمه کې د وسلوالو د مرکزونو په له منځه وړلو کې کافي هڅې نه کوي، راپورونه وایي وسلوال له هغه ځایه په افغانستان کې پر افغان او بهرنیو ځواکونو حملې پلانوي.
په وروستیو میاشتو کې له پاکستان سره د امریکا اړیکې خړې پړې شوې دي. د مې په دویمه د پاکستان په ایبټ اباد کې د اسامه بن لادن د وژنې لپاره د امریکا د ځانګړو ځواکونو عملیاتو ته پاکستاني چارواکي د خپل هېواد د حاکمیت له حق څخه د سرغړونې په سترګه ګوري.

حملات راکتی بر خاک افغانستان...

اخیر راکتی که از خاک پاکستان بالای بعضی مناطق سرحدی افغانستان صورت گرفته بود، تمرکز داشت. من برای شان خاطر نشان ساختم که تکرار همچو حملات باعث خشم مردم افغانستان خواهد گردید."
طبق معلومات وزارت دفاع افغانستان، نیروهای پاکستانی از چندی بدین سو بعضی از مناطق سرحدی افغانستان را هدف حملات مسلسل راکتی قرار داده که طی آن در حدود ۱۰۰ تن کشته و زخمی و صد ها تن دیگر مجبور به ترک منازل شان شده اند.
این در حالیست که مقامات پاکستانی این راپور ها را رد نموده و این حملات را از سوی طالبان تلقی نموده و می گویند که به راه اندازی چنین حملات از سوی مخالفین در حقیقت برای به وجود آوردن تشنج ها میان افغانستان و پاکستان می باشد.
به قول عمر داودزی، طرفین در گفتگو مذکور توافق نمودند تا دولت های هر دو کشور موضوع را جدی تعقیب نموده و از وقوع همچو حملات در آینده جلوگیری نمایند.
وی گفت:
"هر دو طرف امروز موافق بودیم که در این مقطع زمان که سفرهای خوب میان هر دو کشور صورت گرفته، روند خروج قوای بین المللی به زودی از افغانستان آغاز می شود و مذاکرات صلح در مراحل حساس قرار دارد، از وقوع همچو حملات که دسیسه پنداشته شده است، باید جلوگیری گردد."
عمر داودزی سفیر افغانستان در اسلام آباد در حالی با مقامات وزارت خارجه پاکستان در مورد بحث و گفتگو نموده که نماینده های مردم در جلسه روز دوشنبه ولسی جرگه افغانستان اعلامیه را در رابطه صادر نمودند. در این اعلامیه آمده است که در صورت ادامه حملات راکتی از خاک پاکستان به مناطق سرحدی افغانستان، دولت افغانستان باید عکس العمل جدی از خود نشان داده و هر نوع ارتباط اش را با پاکستان قطع نماید.

د افغانستان له لارې د...

سره د اورګاډي په وسیله ونښلي.
اسیایي پراختیایي بانک د دې پروژې د لومړۍ مرحلې لپاره ۱۶۰ ملیون ډالره مرسته وکړه او د ښاغلي شهراني په وینا د دوهم پړاو لپاره، چې مزارشریف له اندخوی سره یوځای کوي، له ۴۵۰ تر پنځه نیم سوه ملیون ډالره پکار دي چې دې بانک یې د مرستې ژمنه کړې ده.
د اورګاډي بله پروژه د کندهار – چمن پټلۍ ده چې افغانستان له عرب سمندرګي سره نښلوي. د دې پروژې لپاره درې سوه ملیون ډالره پکار دي.
د کانونو وزیر ونه ویل چې په دې پروژې به کله کار پیل شي.
ده د افغانستان په شمال کې د تېلو د استخراج په اړه وویل چې د رواني اوونۍ د شنبې په ورځ به یې د لومړي ځل لپاره په دې برخه کې د پانګونې لپاره د مزایدې غوښتلیکونه ترلاسه کړل.
رویټرز خبري اژانس وایي چې د افغانستان د کانونو وزارت امو دریا ته نژدې د درو ساحو د تېلو استخراج داوه طلبۍ ته وړاندې کړي.
د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې د استرالیا بکنیر، د چین این پي سي، د پاکستان پېټرولیم او تېبس پېټرولیم کمپنیو په دې پروژو کې د پانګونې غوښتنې کړې خو داسې ښکار چې تر ټولو وړه داره وړاندیز د چین این پي سي کمپنۍ کړی دی.
په دې سیمه کې ۸۵ ملیون بېرله تېل تثبیت شوي خو دا د هغو محدودو پلټنو نتیجه ده چې په ۱۹۵۹ کې روسانو کړې وه.
د افغانستان حکومت تېر کال ویلي و چې د هیواد په شمال کې یې یواعشاریه اته ملیارد بیرله تېل موندلي دي.

هغو کسانو چې په افغانستان...

پیغام دا دی چې وژنې، بم ایښوونې او تاوتریخوالی بس کړي، د دې پر ځای د سولې او پخلاینې لار غوره کړي او د خپل هیواد په سیاسي بهیر کې برخه واخلي."
کامرون، بې له دې چې د شمال ټلوالې د پخوانیو جګړه مارو نوم واخلي، وویل: «د افغانستان تجربې ته په پام سره، چې زه یې لرم، هغو کسانو چې په دې هیواد کې خلک وژل، د دې ډول کارونو له بس کولو وروسته اوس په سیاستوالو بدل شوي دي.»
ده دا هم وویل :د افغانستان ملي اردو ورځ په ورځ پیاوړې کېږي نو که طالبان غواړي چې بایلونکي نه وي ، ښه دا ده چې د سولې لار غوره کړي.
د بریتانیا صدراعظم ډیویډ کامرون پاکستان ته په خطاب کې وویل: «طالبان د افغانستان او پاکستان خلک وژني، نو ښه دا ده چې دواړه هیوادونه له یو بل سره د سخت دریځو په وړاندې د مبارزې لپاره خبرې او همکاري وکړي.
ده له سخت دریځو سره د مقابلې لپاره د افغانستان او پاکستان همکاري ضروري او حتمي وبلله.
د بریتانیا صدراعظم، چې تر خبري غونډې مخکې له ولسمشر کرزي سره د افغانستان د جمهوري ریاست په ماڼۍ کې ږغېدلی و، وویل ما له ولسمشر کرزي سره د ګډو همکاریو د پراختیا پر لارو چارو خبرې وکړې او ورته ومې ویل چې له افغانستانه د بریتانیا د حربي ځواکونو له وتلو وروسته به د افغانستان او بریتانیا ترمنځ اوږدمهالې اړیکې دوام لري.
ده دا هم وویل چې بریتانیا او نور لوېدیځ هیوادونه غواړي چې له طالبانو او سخت دریځو سره د مبارزې لپاره د افغانستان امنیتي ځواکونه په ښو وسلو سمبال کړي.
کامرون وویل چې سږ کال به له افغانستانه شاوخوا پنځه سوه سرتېري وباسي او پر ځای به یې د افغان ځواکونو ظرفیت او وړتیا لوړه کړي.

جسد نظامی مفقود شده...

که آثار گلوله بر آن باقی است، عصر روز گذشته پیدا شد.
طالبان مسلح در تماس با رسانه‌هاي محلی اعلام کرده اند که این نظامی انگلیسی را نیروهای این گروه به ضرب گلوله به قتل رسانده اند.
دیوید کامرون روز گذشته به صورت غیر منتظره وارد افغانستان شد و با ابراز تأسف از کشته شدن این نظامي انگلیسي، به خانواده و دوستان وي تسلیت گفت. وي در این سفر با نظامیان انگلیسي مستقر در پایگاه نظامي موسوم به "کمپ باستیون" در ولایت هلمند دیدار و گفت‌وگو کرد.
شهر لشکرگاه مرکز ولایت هلمند از جمله هفت منطقه اي است که در اولین مرحله واگذاري، به نیروهاي افغان واگذار مي شود و کامرون در آستانه واگذاري این شهر از نظامیان انگلیسي به نیروهاي افغان وارد افغانستان شده بود.
انگلیس در حال حاضر ۹۵۰۰ نظامی در افغانستان دارد که این نظامیان به طور عمده در ولایت ناامن هلمند مستقر هستند و تاکنون ۳۷۵ نظامي خود را از دست داده اند.

دغه رنګ موږ تاسې غوره امت ګرځولې یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com